# د ننګرهار د غونډې رپورټ

سېد عثمان سنجش

د جون په ۲۰ کال ۲۰۰۹ء کښې په ننګرهار کښې د باچاخان د ټرسټ د خبريه مرکز لخوا د يوې غونډې اهتمام وشو، دغه غونډه د ننګرهار د قومونو او قبائلو د لوئے رياست په کلب کښې ترسره شوه. په دې غونډه کښې د ننګرهار د قومونو او قبائلو لوئے رئيس او مسوولين، د ننګرهار د اطلاعاتو او کلتور د رياست مسوولين، د ننګرهار د مطبوعاتو د مرکز مسوول، په ننګرهار کښې حکومتي او غېرحکومتي مسوولين او په ننګرهار کښې د رسنيو نمائندګانو برخه اخستې وه، دغه راز دغې غونډې ته د کابل څخه ښاغلي عبدالرشيد وزيري، سرور ماموند هم رابلل شوي وو.

د غونډې پېل د ښاغلي سېد عثمان سنجش له خوا وشو او ټولو راغليو ميلمنو ته ئې ښۀ راغلاست ووايۀ.




دغې غونډې دوه برخې لرلې، لومړۍ برخه ئې په ننګرهار کښې د باچاخان د کمپلکس د جوړېدو د کار د پرمختګ په حقله د باچاخان د ټرسټ رپورټ، په سيمه کښې په ځانګړې توګه په افغانستان کښې د باچاخان د هلو ځلو د مقاصدو په حقله د رابلل شوو مېلمنو له خوا څرګندونې وې.

دوېمه برخه ئې د باچاخان د کمپلکس د کار په حقله د ژورنالسټانو سوالونو ته ځواب وئيل وو.

لومړے سېد عثمان سنجش په سيمه کښې د باچاخان د هلو ځلو او کوششونو يادونه وکړه او بيا ئې په ننګرهار کښې د باچاخان د کمپلکس د جوړېدو د کار د پرمختګ په حقله د باچاخان د ټرسټ رپورټ رسنيو ته توضيحات ورکړل چې مهم ټکي ئې په لاندې ډول دي:

ډېرو محترمو مېلمنو او محترمو ژورنالسټانو د هرځۀ نه مخکښې تاسو ته په دې مطبوعاتي کانفرنس کښې ښۀ راغلاست وايم.

د نن ورځې مطبوعاتي کانفرنس په ننګرهار کښې د باچاخان د ټرسټ د خبريه مرکز له خوا تنظيم شوے دے.

دوستانو! تاسو ته بهتره معلومه ده چې خان عبدالغفار خان د انګريزانو د استعمار په خلاف د ازادۍ په خاطر خپل ټول عمر په سختو شرائطو کښې تېر کړے، هغۀ د خپل خوږ عمر ۳۶ کاله په زندان کښې تېر کړي، مګر استعمار ته تسليم نۀ

شو. هغهٔ نهٔ یوائې د کوزي پښتونخوا بلکې د برې پښتنو د حقوقو دپاره هم لویه قرباني ورکړې ده.

باچا خان د عدم تشدد د فلسفی مؤسس ؤ، چې اوس د دنیا خلق کوشش کوي ترڅو د هغې د فلسفې په اهمیت ځانونه پوه کړي.

باچا خان په کال ۱۹٦٤ د دسمبر په ۱۲ نېټه کابل ته تشریف راوړ، افغانستان ته د دهٔ په راتګ د افغانستان د ټولو طبقو او قشرونو د نمائندګانو په زرګونو تنو، سپین ږیرو او ځوانانو له خوا په شاندارو مراسمو تود هرکلے ووئیل شو. دهٔ به وئیل: ما ټول عمر هلته خپلو خلقو ته خدمت وکړو، دا هم زما عزیزان دي، دا هم زما قوم دے، زما اولس او زما ملت دے، اوس یو څهٔ موده دوي ته خدمت کوم، د هم دې لامله ئې یوه ورځ هم داسې نهٔ ده تېره شوې چې دهٔ ته دې څوک نهٔ وي ورغلي او یا دې دے په خپله خلقو ته نهٔ وي ورغلے.

باچا خان په افغانستان کښې د ټولو اولسونو سره یعنې، پښتنو، تاجکو، بلوڅو، هزاره، ازبکو، ترکمنو، نورستانیانو، پشه یانو سره مینه لرله او د نزدې نه ئې د هغوي سره لیدهٔ کاتهٔ کړي وو، په وار وار ئې د هغوي ټولنو او ډلو ته د یووالي، مینې، محبت، پېرزوینې،عزیزولی او برابری، جمهوریت ډیموکراسی او ازادی په حقله خبرې کولې. د دهٔ د مینې ثبوت دا ؤ چې د خپل وصیت له مخې د پښتون په غېرتي خاوره جلال اباد کښې خاورو ته وسپارل شو. دا د لرو برو پښتنو د یوالي او د ډیورنډ کرښې په ضد د هغهٔ د اوږدې مبارزې یوه برخه ګڼلے شو.

باچا خان ارمان لرهٔ چې په افغانستان کښې د دهٔ په نامه د ټرسټ خېریه اداره جوړه شي او د دې په وسیله وکولے شي لر او بر افغانانو ته خدمت وکړي چې بالاخره د هغې د ارمان د پوره کېدو دپاره د افغانستان د اساسي قانون د غوښتنو سره سم د باچا خان ټرسټ په افغانستان کښې په رسمي ډول جوړ او د هغې څانګه په ننګرهار کښې په کال ۲۰۰۷ء کښې په رسمي ډول پرانستل شوه

دغه ټرسټ یوغېر سیاسي، غېر دولتي خېریه اداره ده چې په نظر کښې لري چې د افغانستان د قانون مطابق لرو او برو افغانانو ته خېریه کارونه وکړي.

## د باچاخان د مقبرې د کمپلکس پروژه

د باچاخان د کمپلکس پروژه د لومړي ځل لپاره د مرحوم ډاکټرنجیب الله په دور کښې شروع شوې وه چې وروستو د سیاسي او نظامي ملحوضاتو په بنیاد سره شاته وغورزېده، دغه پروژه د باچا خان د ټرسټ د هلو ځلو په وسیله د جنوری په ۲۰ کال ۲۰۰۷ء کښې د باچا خان د ۱۹ تلین په مناسبت د افغانستان د اسلامي جمهوریت د جمهور رئیس جناب حامد کرزي او د کوزې پښتونخوا نه راغلیو مېلمنو په ګډون په راس کښې اسفندیارولي خان، د ننګرهار محترم والي ګل اغا شېرزوي او نورو ښاغلیو په وسیله د دې کمپلکس پرانسته وشوه.

دا دے اوس د دې پروژې کار په عملي ډول پېل شوے چې هیله لرو په کامیابی سره ترسره شي.

البته د دې کمپلکس د جوړېدو پکار کښې د افغانستان حکومت، د ننګرهار د ولایت محترم مسوولین په راس کښې د ننګرهار محترم والي

صاحب ګل اغاشېرزوے د دې پروژې د کار د پرمختګ په حقله اسانتیاوې برابرې کړې چې د ستاینې وړ دي.

مګر د دې پروژې مالي لګښت د باچا خان د ټرسټ، د خدائي خدمتګارو د مینه والو له خوا پوره کېږي. په دې کمپلکس کښې د دۀ مقبره، جومات، پارک، میوزیم او په راتلونکي وخت کښې د مکتبونو جوړول شامل دي.

دوستانو! غواړم ستاسو توجه هغه خبر خوا ته واړوم کوم چې څۀ موده مخکښې د افغانستان د مطبوعاتو له خوا داسې خبر خور شو چې د باچا خان په مزار د اویا میلیونو امریکائي ډالرو لګښت د افغانستان د حکومت له خوا تر سره کېږي.

په دغې مقبرې د اویا میلیونو ډالرو لګښت له مبالغې ډکه څرګندونه وه چې هېڅ حقیقت نۀ لري د دغې پروژې لګښت نۀ دومره ډېر دے او نۀ هم د افغانستان دولت تر اوسه د دې لګښت په غاړه اخستے. هیله لرم ترڅو محترم ژورنالستان د دې خبر د تصحیح کېدو په خاطر خپل مثبت کردار ترسره کړي.

زۀ د موقعې نه په استفادې سره ټولو هغو غېر دولتي ادارو څخه مننه کوم چې د باچا خان په نوم ئې په افغانستان کښې د قانون مطابق خپلې ادارې تاسیس کړې. دا د دوي حق دے ځکه چې باچاخان هغه هستي ده چې د دنیا ټول خلق د هغۀ سره اړیکه لري. خو د ننني غونډې په وسیله د دې ادارو د مسوولینو نه هیله لرم ترڅو د خپلې ادارې د اهدافو په بنیاد چې په افغانستان کښې رجسټرډ شوې خپل فعالیتونه مخکښې بوځي او د باچا خان د ټرسټ د کارونو په حقله مداخله او بیانونه ور نۀ کړي دا ځکه چې دغه ټرسټ ځان له خپل مسوولین او کارکونکي لري.



دوېم وینا کونکے ښاغلے عبدالرشید وزیري ؤ. ښاغلي عبدالرشید وزیري د باچاخان د مبارزې په مختلفو اړخونو خبرې وکړې چې د غونډې د برخه والو له خوا ئې تود هرکلے وشو. هغۀ په ننګرهار کښې د قبائلو د لوئے ریاست د همکارۍ نه هم مننه وکړه.

درېم وینا کونکے ښاغلےسرور ماموند ؤ. هغۀ په خپل وار د عدم تشدد په فلسفه رڼا واچوله او د دې فلسفې په ارزښت ئې د غونډې برخه والو ته خبرې وکړې چې د غونډې د برخه والو د توجه وړ وګرځېده.

د غونډې دوېمه برخه په ازاده فضا کښې د ژورنالستانو سوالونو ته د ښاغلي سېد عثمان سنجش له خوا ځوابونه ورکړل شول.

غونډه په ښه فضا کښې ختمه شوه او وروستو ټولو مېلمنو او ژورنالستانو په هغه مېلمستیا کښې برخه واخسته کوم چې د باچا خان د ټرسټ له خوا برابره شوې وه. د غرمې د ډوډۍ د ختمېدو سره سم ټول ژورنالستان د باچا خان د مقبرې د کار د

جریان د لیدو لپاره د باچا خان مقبرې ته لاړل او د مقبرې د جوړېدو د کار تصویرونه ئې واخستل .

(رپورټر د باچا خان ټرسټ د افغانستان کوارډینېټر دے)